

# د هیواد د پښتو ژبې او ادب پیاوړي او وتلي خدمتګار ښاغلي ګل افضل ټکور سره ادبي مرکه

## مرکه کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

ښاغلی افضل ټکورهغه تکړه اومخکښ شاعراولیکوال دی، چې دخپلوارزښتناکو، علمي او ادبي آثارو، لیکنواو څېړنو په وسیله یې زموږد دپښتو ادب ستوري روښانه او ځلانده ساتلي دي، او خپلې ملي ژبې او افغاني ادب او فرهنګ ته یې د ستاینې او ویاړه ډک خدمتونه تر سره کړي دي او په دې لاره کې یې ډېر اغیزمند ګامونه پورته کړي دي، چې زموږهیواد وال اود علم اوادب مینه وال به د ده دا ټولې علمي، ادبي اوهنري هلې ځلې او خدمتونه هیڅکله هېر نه کړي.

ښاغلی افضل ټکور په (۱۳۳۹) لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د کوز کونړ په ولسوالۍ د کوټۍ په کلي کې په یوه علمي، ادبي او روحاني کورنۍ کې دې دنیا ته سترګې غړولې دي.

نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د خپل کلي په ښوونځي کې سر ته رسولي دي، او په (۱۳۵۷) لمريز کال کې د ننګرهارولايت په کوز کونړ ولسوالی کې د سيد جمال الدين له ليسې د دولسم ټولګي نه فارغ شوی دی. ده په (۱۳۶۴) لمريز کال کې خپلې لوړې زده کړې دننګرهار پوهنتون د انجينرۍ په پوهنځي کې پای ته رسولي دي.

وروسته له دې، چې دی دانجينرۍ د پوهنځي نه فارغ شو دافغانستان د ليکوالوپه ټولنه کې په کار پيل وکړاو د ژوندون مجلې مهتمم وه. په (۱۳۶۷) لمريز کال کې د دغې مجلې د مسوول مدير په توګه وټاکل شو. په همدغه وخت کې د انيس ورځپاڼې د ادبي مخ، چې د نکريزو پاڼه نوميدله د چلوونکي هم وه. ورپسې د څو کالو لپاره په راديو افغانستان کې د شاعر شپه ، او د ځوانانو لپاره ده (ولولې) په نوم د ادبي خپرونو ليکوال وه .

د ټکور صاحب شعرونه، مقالې او څيرنيزې ليکنې د هيواد په بيلا بيلو خپرونو کې خپرې شوي دي. په ډيرو علمي او ادبي سيمينارونو کې يې برخه اخيستې ده. د ده چاپ شوي آثار دادي:

- ښکالو دپسرلو: دا شعري ټولګه په (۱۳۶۵) لمريز کال کې دافغانستان دليکوالو د ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

- پرهرونه ټکورونه: دا شعري ټولګه په (۱۳۶۸) لمريز کال کې دليکوالو دټولنې په زيار سره چاپ شوې ده.

- يوداغ يوټکور: دا شعري ټولګه په (۱۳۷۴) لمريز کال کې ټکور صاحب په خپل لګښت په پيښور کې چاپ کړې ده.

- دا ليکوال او دا څيرې: داکتاب په(۱۳۶۴) لمريز کال کې دبيهقي دنشراتي موسسې له خوا په (۵۰۰) مخونوکې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د پښتو ژبې (۹۰) تنه شاعران د هغوی د ادبي آثارو د بيلګو سره معرفي شوي دي.

- د نظرغشي: دا د پښتو ژبې د نامتو شاعر ښاغلي رحمت شاه سايل د منتخبو شعرونو ټولګه ده چې د ټکورصاحب د يوې اوږدې سريزې سره دقومونواوقبايلو چارو وزارت له خواپه (۱۳۶۷) لمريزکال کې چاپ شوی دی.

- دهسک پيغله: دا د ارواښاد استاد بينوا د نا چاپو شعرونو جونګ دی چې ټکور صاحب دهيواد د پنځوس کلنو مطبوعاتو نه راټول کړي او له يوې سريزې سره يې په (۱۳۶۸) لمريز کال کې د افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا چاپ کړې ده.

- د زخمونو پسرلی: دا د وتلي شاعر ښاغلي سليم راز د شعرونو انتخابي ټولګه ده چې د ټکورصاحب له يوې سريزې سره په (۱۳۶۷) لمريز کال کې د افغانستان د قومونواو قبايلو د وزارت له خوا چاپ او خپره شوې ده.

- نوي فکرونه : دا د پښتونخوا د خيبر د سيمي د ښه شاعر ښاغلي ذاکر اپريدي شعري ټولګه ده چې د ټکورصاحب په هڅه ترتيب او تدوين شوې ده او په (۱۳۶۸)لمريز کال کې د قومونواو قبايلو وزارت له خوا چاپ شوې ده.

همدا ډول دشعرونو يوه ناچاپه ټولګه اوپه اروپا کې د مهالنيو خپرونو په اړه يواثر يې چاپ ته تيار دي.

ټکور صاحب دلومړي ځل لپاره په هالند کې مهاجر شواو اوس د خپلي درنې کورنۍ سره په لندن کښې د مهاجرت شپې او ورځې سبا کوي او په لندن کې د افغان ليکوالودفرهنګي ټولنې مسوليت ور په غاړه دی چې کله د افغانستان د ملي ورځو، مشاهيرو او مفاخيرو په وياړ غونډې او سيمينارونه هم جوړوي.

زه د ټکور صاحب د درانه نوم سره آشنا وم. ما د ده شعرونه، مقالي او ادبي ليکنې او څيړنې په ورځپاڼو، مجلو، کتابونواوانټرنيټي سايټونو کې لوستلي وو، خوکله چې ما دده شعري ټولګه ترلاسه کړه او زما سترګې يو وار بيا د ده په شعرونو ولګيدې اوپه ډيره مينه خوند او اخلاص مې دا ټولګه ولوستله نو ماته دا ذهنيت پيدا شواو زه دې ته وهڅيدم، چې د ده دادبي او فرهنګي فعاليتونو په هکله يو څو کرښې وليکم او د ده سره يوه ادبي مرکه جوړه کړم.

- که چيرې د ده شعرونه په دقت سره ولولو، نو ويلې شو، چې د ده په شعرونو کې هنري اړخونه هم دمحتوا اومضمون په لحاظ او هم دفورم او شکل په لحاظ په ډير ښکلي خيالونو او تصويرونوکې ترسيم شوي دي. دی هغه شاعر او ليکوال دی، چې د ده شعوري اوسپيڅلې مينه دخپلې ملي ژبې، د پښتون او پښتونولي سره، دملي وحدت او دخلکود اتحاد او اتفاق سره، د سولې، سوکالۍ، آزادۍ، خپلواکۍ او دموکراسۍ سره، د خلکو او وطن سره په ډير هنرمندانه شکل او ظريفانه انداز سره انځور شوې ده. دی په خپلو شعرونو کې خپله کرکه دظلم، استبداد، جنګ، وراني او وحشت سره هم بيانوي. د ده ژوردرد، ښه احساس او جذبه په دغو انځورونو کې له ورايه څرګنديږي. د بيلګې په توګه د ده دغوشعرونوته دتاسو پام رااړوم.

## غزل

زه په تا ښکلی ته په ما يې ښکلې

ګله وطنه په ربنتيا يې ښکلی

ټيټه دې نه شوله مغروره شمله

له پته ډکه په والله يې ښکلی

عشقه که ډير دې کړل دغرو ليوني

ما ليوني ته له دنيا يې ښکلی

نور بې وفا دي چې وفا دې غواړي

حسنه ته ماته بې وفا يې ښکلی

دا پښتونواله ده که دود دپښتو

سره چې تل په پښتونخوا يې ښکلی

پوه شوې که نه په انتها د منصور

داره زما په ابتدا يې ښکلی

ديار په ډيرې خندا نه شوې ټکور

زخمي ګوګله بې دوا يې ښکلی

او يا لکه چې وايي :

څوځلي مې وران شو سر په سر کلی

توره شپه کې ګير شو د سحر کلـــی

ډير مې ګريوانونه پکې وشکــــول

جوړ نه شو اشنا ستـــــا دنظر کــلی

پــرې بـــه مې لا ډير پکې سرونه شي

زه کـــــه جــــوړوم دا لر او بــــر کلی

ای خورو ورو که چرته يـــو نه شــــــو

وران به شي زموږ د يو ســـفر کلــــــی

اوس په کې اغزي راټــو کيدلـــي دي

څــــه شــــو دګلــــــونو دمحشر کلی

ضـــــد يې دی نيولې دپښتون په خير

اخلـــي بـــدل اخلـــي دلته هـــــر کلـــی

دا کـــــوم بې انصافه کړو په وينو سور

دا خــــــو ؤ پخــــــوا د يــــــو ټبر کلـــی

- د ده د شعرونواو ليکنو نه معلوميږي ، چې دی خپل هدف ، موخه اوموضوع په ډير ښکلي انداز سره پيلوي او لوستونکي او اوريدونکي تر پايه له ځان سره په ډيره مينه او اخلاص سره ساتي.

- د ده په شعرونواوليکنوکې هنري اوټولنيز شعور، ملي، وطني او عاطفي احساسات، علمي اوادبي خبرې، اصلاحي اوتنقيدي اړخونه په ډير عيني او واقعي ښکل اوعالي فکر، تصوراو احساس سره ترسيم شوي دي. د بيلګې په توګه دا بيتونه وګورئ:

ارې شو، وينې شو، زخمي شو وطن

زما په وينو الواني شو وطن

چې يې ساتلی و د سر په بدل

نن د هماغه ليوني شو وطن

ګلونه خيلمې نه خفه ښکاريږي

وران چې په لمسه د پردي شو وطن

د آزادئ د ناوې حسن وژني

دومره په زور ظلم ياغي شو وطن

نه پرې د خپل نه دپردي زړه سوزي

داسې د وخت کې جيل کې بندي شو وطن

په سپورو شونډو يې چا نوم وانخيست

د جنګ په سره اور کې ستي شو وطن

زه يې ديو زخم ټکور نه شومه

ډير مې د مينې ارماني شو وطن

او يا وايي:

په وطن کې مې د پيغلو ارمانونه اور کې سوزي

په سرو وينو مې پاللې سره ګلونه اور کې سوزي

هر سحر او مازديګر مې په سرونو لوبې کيږي

يو بې سره قتل عام دی اميدونه اور کې سوزي

لرو بر ده جوړه شوې کربلا په دې وطن کې

د مرګي لوبه جارې ده هوسونه اور کې سوزي

دمنزل په هره لاره د ژوندون په هره ساه کې

دښايست د ليونيو ګريوانونه اور کې سوزي

او يا وايي

تا نه وه که ما نه وه خو ورانه شوه

دا د حق خبره کول ګرانه شوه

خدايه! دې وطن کې ولې هر څه نه؟

وينه د انسان ډيره ارزانه شوه

خدايږو غورځوي مو د مرګ کندې ته

دا قافله کوم لورې روانه شوه

عقله دې زخمي زخمي وطن کې نن

لوبه د مرګي ډيره اسانه شوه

ستا دغم په جيل کې مې دغم چغه

پورته ان دظلم تر اسمانه شوه

چا وی چې د هجر زهر څله څښني

ما وی ماته پیښنه له جانانه شوه

- دی په خپلو شعرونو کې دخپل تصور، خیال او فکر په وسیله دمیني ، محبت اوښکلا مختلفې برخې دطبعیت ښکلي او په زړه پورې منظرې، د پیمخواو ښاپیریو ښایست، حسن اوجمال، دمطربانو، مستانواورندانومحفلونه، دسوز او ساز سندری په ډیر ښکلي انداز سره ځیري او کوشش کوي، چې د ده په اشعارو کې هنري تصویرونه، انځورونه شعري کلمات او الفاظ ، خواږه ترکیبونه، تشبیهات اواستعارات، موسیقیت، او داسي نوری شعري ځانګړني په ډیرو خوندور اوهنري کلماتو کې په نوي خونداو رنګ سره ترسیم کړي. دبیلګې په توګه دا بیتونه لولو:

چې ژړوي مې تر سهاره ګلې ستا مینه ده

چې توله شپه یم ناقراره بې وفا مینه ده

ارام مې نشته په بستر کې سترګې نه پټیږي

په تول عالم کې رسوا شوې اوس زما مینه ده

د لیونتوب حال مې لیدلی دی هر چا په سترګو

ګرېوان چې ځیرې ګرځوم دا دلیلا مینه ده

او یا وایي:

احساس مې ستا د سترګو د بنو سندرې وایي

غیرت مې ستا د زلفو زولنو سندرې وایي

قسم دی ځان به ستا په مینه زه لوګی لوګی کړم

زړګی مې محبت کې د سلګو سندرې وایي

بپلتونه راته ښکاري چې اشنا به مې نن راشي

دوه سترګې مې د مینې د راتلو سندرې وایي

او یا وایي:

هاغه ده ګلونو نه تاوه شوه راتا وه شـــــــــوه

بیامی دزخمونو نه تاوه شوه راتـــــاوه شوه

جار دمیکدی نه شم تنده پری مـــــــاته کړم

اوښکه می جامونو نه تاوه شوه راتاوه شـوه

ښکاری نن یی بیا په زړه ډیر ډیر وریدلی یم

ورانو قدمونو نه تاوه شوه راتـــــاوه شـــوه

عشقه دا زما دزړه دا بی باکه کـــوکـــه نن

ستا دمحلونو نه تاوه شـــــوه راتاوه شـــوه

او یا وایي:

غم دې داشنا راځنی کـــــم نـــــــه شي

ورک دی دښایسته ستر ګو دیدن نه شي

واوره لیونتوب کی مینــــه ډیـــره ده

دا لیونی فکر می دی سم نـــــه شـــي

اوښکی چی راځی نو سلګی مه وهــــه

ګوره چی زخمی زړه می ملهم نه شـــي

شمعی ته بلیږه زه سوزیـــــــږمـــــــه

پریږده چی خبر می پری صنم نـــه شـي

او یا وایي:

جانان چی په ملاله خوله څواب نه راکوي

یارانــو ښه شوه قبـر به عذاب نــه راکوي

افسوس دی په پردي وطن کی دغه زما حال دی

سپرلی شو خو هیڅوک راله ګلاب نه راکـوي

زه هم غواړم چی ولولم دا ستا دمخ کتاب

مودی وشوی خو څوک راله کتاب نه راکوي

والله چې په یوه نغمه یې سل زړونه ټکور کړم

خو څه وکړم چې څوک راله رباب نه راکوي

او یا لکه چې وایي:

سپرلی که دچمن سوداګرانو ته موسکی دی

ښایست موږ بد نصیبو لیونیانو ته موسکی دی

دا ستا تشه خندا زموږ وژلو لره بس ده

قاتل څله زموږ غونډې خوارانو ته موسکی دی

د ژوند د سروګلونو دښایست ناوې به راشي

ژوندون زما دکلي ماشومانو ته موسکی دی

خبر نه یم کرم یې څنګه سترګو کې پیدا شو

ساقي چې میخانه کې میخوارانو ته موسکی دی

اشنا دا ستا ښایست په دې چمن غونډې وطن کې

پوه نه شومه چې ولې دوزخیانو ته موسکی دی

دا سوی لوی زړه چې مې اشنا نه ټکوریږي

پوهیږمه غرور مې رقیبانو ته موسکی دی.

دټکور صاحب دشعرونو نه معلومیږي، چې ده په هر ډول شعري فورم کې دغزل نه رانیولې تر نوي، سپین او آزاد شعر پورې خپل قلم اوچت ساتلی دی.

ټکور صاحب هغه شاعراولیکوال دی، چې دخپلې خوږې ژبې، ادبي سلوک او کردارپه درلودلو سره د خپلو یارانواو دوستانوسره په ډیره پسته او آرامه ژبه غږیږي او د دوی په منځ کې دیو با احساسه، متواضع اومینه ناک انسان په توګه خپل ځای اومقام لري. دی یو زړه سواندی او د لویې حوصلې او سرې سینې او د ښو اوصافو او لوړو اخلاقو

خاوند شخصیت دی. د ده دوستان او آشنایان د ده دادبي او علمي مجلسونو نه ډیرې په زړه پورې خاطرې لري.

دډکور صاحب د پوره پیژندګلوي لپاره ما د ده سره یو ادبي مرکه نیولې ده ، هیله ده چې د تاسوادبي تنده پرې ماته شي.

ډکور صاحب زما سلامونه او نیکي هیلي ومنې. اجازه راکړی، چې خپلې پوښتنې پیل کړم:

پوښتنه: ستاسوشوق او مینه د شعر ویلو سره څنګه پیدا شوه، کوم احساس اوچا دې ته وهڅولې، چې دشاعرې او لیکوالیو ډګر ته مو مخه کړه؟ لمړنۍ شعر مو کوم شعر وه؟

ځواب: دجرمني ژبې یو مشهور ناول لیکونکې یورخیم زایل نه کوم ژورنالست پوښتنه کړی وه ، چې ته خو دجرمني په هامبورګ کې اوسیږی نو ولې ستا په ناولونو کې زیاتره کرکترونه دبرلین اوسیدونکې وي ددې وجه څه ده؟

هغه ورته په ځواب کې ویلي ووچې برلین زما په سینه کې پروت دی.

نو اوس که ستاسې دپورتنې پوښتنې په ځواب کې دهمدغه جرمني لیکوال خبره تکرار کړم بده به نه وي، دشعر سره مینه مې په سینه کې اوسیږي، ورسره ژوند کوم. اوس یو له بل سره عادت شوي یو. یو له بله پرته ژوند نه شو کولی. نو دسر چینې به درته څه ووایم:

خبرې ډیرې سر یې یو واعظه

چې بې له مینې هر څه سر وخوږو

یا لکه دا چې:

ژوند مې مینه مینه دی

ځکه نوم دمینې سره ژوند کوم

سرچینه یې همدا وبوله.

پوښتنه: یوشمیر لیکوالان وایې: په شاعرۍ کې تر ټولو لویه سرچینه مینه ده که دا سرچینه نه وي نودشاعرۍ ډیره مهمه برخه له منځه ځي. لکه، چې حمزه بابا وایي:

مینې ته حمزه چې فکر وکړوما     داهم د ښکلا یوه څپه ښکاري

مهرباني وکړی په دې هکله خپل نظر را سره شریک کړی؟

**ځواب:** دا ممکن تر یوه حده سمه وي چې دشعر سرچینه مینه وګڼو، خو زماپه اند مطلق نه شو ویلی دلته باید موږ دمینې په اړه فکر وکړو. زموږ په ټولنه کې ډیرې شاید په دې باوروي، چې مینه له ښکلو سره مینه ده، مینه دیوه لطیف جنس سره مینې ته ویل کیږي. ځکه پخوا به دغزل تعریف داسې کیده چې دلطیف جنس سره دخبرو په مانا دی. غزل عشق اومیني ته وایي، خو دغزل په پراخه لمن داسې څه بیان شول، چې هم حماسي وو او هم غنایي او عشقي، او دا عشق نه شو کولای چې یوازې دښکلي مخ سره یې وګڼو، کیدای شي یو څوک له یوه څیز سره اویو بل له یو بل څه سره مینه ولري. ځکه ښکلا پیژندنه مطلقه نه، نسبي ده. یو چا ته ممکن یو څه او بل چاته ممکن بل څه ښکلي وي.

**پوښتنه:** دتاسو په آند شعر ته کوم تعریف تاکلی شو، او تاسو د یو شاعر په توګه دشعر او شاعر اغیز د یوې ټولنې د خلکو په راویښولو او د دوی د ملي احساساتو په راپارولو کې څرنګه څیرئ؟

**ځواب:** سره له دې چې دغه پوښتنه ډیره کلیشه یي ده خو بیا هم لازمه ده چې لږ ورته تم شو.

دشعر داسې کوټلې تعریف، چې دهر چا له پاره دمنلو وړ وي، تر اوسه نه شته هرچا تر خپلې وسې پورې دشعر دتعریف په اړه راز راز تعریفونه  وړاندی کړي دي، څوک وایي : شعر موزون کلام دی، ځنی وایي هر هغه کلام چې وزن او قافیه ولري شعر دی، اروابناد استاد اکادمسین کاندید صدیق روهي وایي: شعرداحساساتو او عواطفو رنګین تعبیر دی، ځنی وایي:هرهغه څه چې په زړه اثر کوي او په انسان کې جوش او جذبه پیدا کوي هغه شعر دی، زموږ دزماني لوی شاعر اروابناد ایوب صابر وایي:

له زړګي چې وینې وڅڅوم بیت شي

زماني زما نقصان ته خو پام وکړه

حمید مومند وایي:

شعر نه دی دا خوناب دزخمي زړه دی

یا وتلی دستي دم له خولی دمړه دی

خوشحال خان بابا هم دشعر په اړه وایي:

لکه غشی لره بویه تیر انداز

هسی شعر لره بویه سحرساز

همیشه دزړه په لاس تله دوزن

زیات او کم له وزنه یو توری غماز

دغه شعر کې ګورو، چې خان علین مکان خوشحال خان ختېک به شعرکې  دوزن یادونه کړی او هغه په دې عقیده دی که په شعر کې یوتوری هم کم اوزیات شي نوهغه غمازدی، او په دې ډیر ټینګار کوي چې شعر یو موزون کلام دی،

شعریوی ښکلې ناوی ته ورته دی ناوی یوازی پرنوو جامو نه ښکلی کیږي هغی باندی باید ناییبه ډیر کوشش وکړي، چې ناوی داسې  سینګار کړي، چې ښکلا یې لاپسی زیاته شي.

پوښتنه: یو شمیر لیکوالان په دې عقیده دي، چې شعر الهام دی خو یو شمیر نور وایي، چې شعر لیکل ریاضت او انساني تجربه ده. مهرباني وکړی په دې هکله خپل نظر راسره شریک کړی؟

ځواب: چیرته مې لوستلي وو، چې شعر دوه ډوله لیکل کیږي چې یو ته (امد) او دې بل ته یې (اورد) وایي، خو زه په خپله دخوشحال بابا په نظر یم هغه وایي:

زه دشعرپه کار هیڅ نه یم خوشال

ولی خدای می کړ پر غاړه دا مقال

چی دشعر فکر ورشي په مجلس کي

نور عالم خندا هوس کا دی ملال

چی دشعر فکر ورشی په لمانځه کي

د اعوذو ذال بدل کاندي په دال

چی دشعر فکر ورشي په خواړه کي

سپینی وریجی په مزه شی ورته دال

ځنې په دې عقیده دي چې دشعر اساسي توکي دغه څلور دي:

محتوا،مضمون(منځپانګه)، وزن،پیغام، او فکر. خوشحال خان بابا دشعر وزن ډیر اساسي بولي علامه اقبال لاهوري په شعر کې په پیغام ډیر ټینګار کوي هغه وایي:

شعر را مقصود گر ادم گری است

شاعری هم وارث پیغمبری است

دلته وینو، که دیو ښه شعر مطلب انسان جوړونه وي، او انسان ته دمیني او خلوص پیغام رسول وي، نو شاعر هم دپیغمبر وارث ګڼلی شو. شاعر باید انسان ته داسې یو جهان جوړ کړي، چې انسان په کې مینه او ښکلا ووینې، دداسې صفاتو سره مخامخ شي چې دانسان نه انسان جوړ وي، وایي چې رب ښایسته دی او ښایسته یې خوښ دي. خوشحال خان هم په دې عقیده دی، چې شعر دفاسق او فاجر کار نه دی شاعر یا ولي دی یا ابدال هغه وایي:

شعر کار دهر فاسق دفاجر نه دی

نه دهر یوه وړسترګی دکنګال

شعر کار دسالک یا دمالک دی

دعاشق دی ددردمن دی دابدال

اوس به نو دپوښتنې نور ځواب لوستونکوته پریږدو چې هغوی شعر څه بولي.

پوښتنه: د تاسو په نظر د ادبي سبک اومکتب تعریف څه دی، او یو ادبي سبک او مکتب څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟ ولې په معاصره دوره کې ادبي سبک او مکتب نشته. آیا ورته کار نه ده دی شوی او که دا حق څوک نه لري؟

ځواب: ارواښاد استاد ګل پاچا الفت دسبک په باره کې لیکي:(دسبک حقیقي معنا سره یا سپین زر ویلې کول او په قالب کې اچول دي، مجازا دبیان داظهار خاص طرز ته سبک وایي.)

د سبک یو څه مفصل تعریف دا ډول هم شوی دی: (د ژبې د کارولو خاصه طریقه، چې د یو لیکوال ادبي مکتب، ادبي پیر یا صنف ځانګړنه وي، سبک یې بللی شو. د لغتونو د انتخاب طرز، انځورونه او د ښکلو ترکیبونو استعمال، د ادبي صنایعو دقیق استعمال هم د سبک په پیژندلو کې مرسته کولای شي. په دې ډول وینو چې سبک یو مثبت صفت دی، چې ځنې لیکوال یې لري او ځینې یې نه لري. زموږ د زماني وتلی لیکوال، څیړونکی او کیسه لیکونکی استاد اسدالله غضنفر د (سبک به څنګه معلوموو) تر سرلیک لاندی یوه مغتنمه او ډیره ګټوره مقاله کښلی او هلته یې د سبک پر ډولونواو ادبي سبک او ستایل په اړه ډیر څه بیان کړي دي، هغه د خپلې لیکنې په یو برخه کې

ليکي: سبک داسې صفت دی، چې د يو کس ليکنې د بل نه بيلوي. سبک ته سټايل هم وايو....

د سټايل کليمه لږ تر لږه دوه مفهومه لري، چې توپير يې په کار دی. که موږ ووايو، چې فلاني ليکوال ډېر ښه فکر خاوند دی، خو سټايل نه لري نو له سټايله به زموږ مطلب يو داسې ثابت کيفيت وي، چې د ځينو ليکوالو په آثارو کې شته او د ځينو کې نه شته. د سبک په دغه تعريف کې، چې افلاتوني تعبير يې بولو، سټايل له يو بل سره دوسيلی او هدف پوره انطباق اوسمون خوړلو ته وايي، په دې حساب سبک د غوره او ښه معادل دی او دسبک ښتن هغه څوک دی، چې د وينا يو خاص انداز يې موندلی، چې د هغه په مټ خپل مطلب په دقيق ډول څرګندولی شي.)

په پښتو ادبياتو کې سبک دليکوال له نامه سره ډېر شهرت موندلی دی. موږ هروخت وايو دخوشحال خان ادبي سبک، دحميد بابا سبک، درحمان بابا سبک، دلته زموږ قضاوت هم مختلف دی، مثلا که په کوم شعر کې درزم، بزم دوياړونو ماتو او بريو کيسې شوې وي، وايو فلانی د خوشحال خان دسبک پيرو دی اوهمداډول که دتصوف مسايل په کی وممو نو بيا وايو چې درحمان بابا دسبک پيرودی، اوهمداسې که نور څه پکی پيداکړونو بيا يې به نورو پوری تړو. د پښتو په معاصرو ادبياتو کې د حمزه بابا ادبي سبک يا ادبي مکتب د خپلو ځانګړو استعارو، ترکيبونو، د ادبي صنايعو د دقيق استعمال له کبله ډېر شهرت لري. په راتلونکي کې هم موږ ممکن د ځانګړي ادبي سبک او مکتب خاوندان ولرو.

پوښتنه: سپن شعريا نوی اوآزادشعراو کلاسيک شعر څه توپير لري؟ يو شمير شاعران په دې عقيده دي، چې سپين يا آزاد شعر په پښتو ادب کې له ډېر پخوا څخه موجود وه. تاسو په دې هکله څه نظر لری او دا راته ووایاست ، چې دآزاديا سپين شعرمفکوره دچاله خوا چيرته او څرنګه را پيدا شوه؟

ځواب: دنوی اوآزاد شعر توپير په فورم يا چوکاټ کې دی کله، چې دمعاصروشاعرانوله پاره دغزل لمنه وړه او تنګه شوه نو هغوی مجبوره شول چې دغه دشعر پخواني فورم مات کړي. په ازاد شعرکي شاعر يوازی دشعر فورم ته تغير ورکوي، خو وزن او محتوا په شعر کې په خپل حال پاتی کيږي. نه يوازی په خپل حال بلکې پياوړی کيږي. مطلب داچې ازاد شعر دفورم له مخې ازاد خو د منځپانګی يا مضمون له پلوه قيد دی، داسې نه چې که چوکاټ مات شو نو وزن هم له منځه ولاړ. په نورو ژبو کې ممکن دازاد شعر دود ډېر پخوانی وي، خو په پښتو ژبه ليکلی ازاد شعر دشلمی پيړی سوغات بللی شو. زما دمعلوماتوله مخې شايد دقيق هم نه وي دپښتو لومړنۍ لاسته راغلی ازاد شعراروابناد علامه استادعبدالحی حبيبی ليکلی دی.

کله چې مرحوم لوی استاد حبیبی له هیواده تبعید و، او دپاکستان په کراچی کې اوسیده نو هلته یې یو اخبار چلوه په هغه وخت استاد حبیبی یو شعر لیکلی، چې لومړنی ازاد شعریې بللی شو. هغه شعر اوس زماپه لاس کې نه شته خو سرلیک او څو بیتونه مې اوس هم یاددي. دشعر عنوان وو (دکورقاصده). ددغه شعر څو بیتونه داسې وه:

دکورقاصده

دکور قاصده

راته ووایه حال دیارانو

دوطن خپل.......

په پښتونخواکې دازادیا نوی شعر تاریخ دپښتو ژبې دنامتو شاعراروانښاد ایوب صابر نه پیل کیږي دهغه لومړنی ازاد شعر، چې (زما تصویر)نومیږي، دهغه وخت دشاعرانو تر منځ یوه ډیره کامیابه زیاتونه او یوه نوی لاسته راوړنه وه،هغه وایي:

تصویر

دازما تصویر دی

زه چې زلمی ومه همداسی ومه

دغه کاږه کاږه بریتونه ګوری

دزلمی عمر یادګارونه ګوری.

زه چې زلمی ومه همداسی ومه.......

پوښتنه: زموږ یوشمیر ادبي او فرهنګي شخصیتونه په دې عقیده دي، چې دشعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي. تاسو په دې هکله څه نظر لرئ اوستاسو په آند دخلکوپه راوېښولواو دملي احساساتوپه راپارولو کې شعر زیات اغیز لري او که نثر؟ آیا تاسوهم نثرونه لیکلي دي اوکه نه؟

ځواب: په یوه مشهورنړیوال ناول کې مې لوستي وو، چې دهر انسان ژوند دوه برخې لري.یوه یې له واده نه مخکی او بله یې له واده نه وروسته، له واده نه مخکی مرحله شعر ته ورته ده له بغاوت مستې، شور او زوږ نه ډکه ده، خوله واده نه وروسته مرحله هغه نثر ته ورته ده چې مستي شور او زوږ نه نلري،

د نظم په اړه زه نه دشپون غوندی مخالفت کوم او نه دنثر هغومره پلوی یم لکه شپون. زه په دې عقیده یم، چې هنرمند ایجادګر دی، تخلیق کوونکی دی، نو کله، چې دا ومنو نو بیا خوهنرمند باید ازاد پرېږدو، هرهغه څه چې ښه لیکلی او ایجادولی شي ودی کړي. هنرمند، شاعر او لیکوال ته دستور ورکول به سم نه وي. چې ته نظم مه لیکه او نثر ولیکه. یا نثر ډیر دی شعر ولیکه. موږ د لیکوال دازادۍ دسلبولو حق نه لرو. پرېږدی څوک چې څه ښه لیکلی شي ودی لیکي.

داسمه ده چې کله ټولنه په کلتوري اوروشنفکري لحاظ وده وکړي نو په دغه وخت کې لیکوال په خپله ممکن نثر ته مخه وکړي. ځکه چې شعر په مجموع کې دخوند وسیله ده. او ډېرو مسایلواو ډیر څه شته چې دشعر په ژبه نه بیانیږي.

ما په خپله هغه وخت چې په کابل کې وم ډیرزیات نثرونه لیکلي دي.

پوښتنه: د تاسو له آثارو نه معلومیږي، چې تاسو دادبي ژانرونو سره ډیره مینه لری. آیا تاسوبهرني آثار او په ځانګړي توګه دبهرنیو شاعرانو شعرونه مطالعه کوی او که نه؟ کمو لوستلي دي نو ددغوآثارو او شعرونو اغیز پر خپله شاعرۍ څه ډول ارزوی؟

ځواب: زه په خپله د ټولو ادبي ژانرونو سره علاقه لرم، او په ډیرو کې لږ او ډیرې هلې ځلې مې کړي دي، خو که شعر یو ادبي ژانر وګڼو نو بیا مې له دې برخې سره مینه هم پاتې شوې او په دې برخه کې مې د نورو ژبو اثار هم لوستلي دي، طبعي ده، چې اوسنی ادبي پیر کې پر هر شاعر به د یو چا اغیز وي، او دا اغیز معمولا مثبت وي. ځکه څوک چې د چا د اغیز لاندی کیږي هلته بیا د عقیدت موضوع رامنځ ته کیږي. او د دغې عقیدی په نتیجه مینه او خلوص وده کوي. زه خو خپله داسې فکر کوم، چې زما په شاعري زیات د حمزه بابا اغیز دی. په (۱۹۹۲) میلادي کال په پیښور کې د خپل یوه شاعر دوست سره چې فضل غني غني نومیده، یو مازیګر د اروابناد استاد قلندر مومند لیدو ته ورغلم، زما دوست ورته زه معرفي کړلم، چې له کابله دی اوشاعر دی نو هغه ونه منله  هغه ویل د ده کوم شعر، چې د لیکوال (لیکوال دمجلی نوم دی) چې ښاغلي نورالبشر نوید په مسولیت به په هره میاشت په پیښور کې چاپیدله، په نوی ګڼه کې راغلی، ما خو داسې فکر کاوه، چې دی د خیبر اوسیدونکی دی د ده غزل هو بهو د لواړګي د شاعرانو غوندی دی.

پوښتنه: تاسو د شعر په لیکلوکې کومو اساسي ټکیو او معیارونو ته زیاتره پاملرنه کوی؟ د تاسو په نظر د یو ښه او اوچت شاعر ځانګړنی کومې دي؟

ځواب: زما په نظر دیوه ښه شاعر ځانګړنه ابتکار، بغاوت، سرکشي، د ټولنې د منفي دودونو په وړاندې مقاومت، حوصله، مطالعه، مینه او ریاضت دی. شاعر باید هغه څه ټولنې ته وړاندې کړي، چې د ده خلک ورته اړتیا لري، د یو ښه هنرمند ځانګړنې ډیرې زیاتې دي، لیکوال باید کوشش وکړي، چې نوي او ابتکاري موضوعات بیان کړي.
ارواښاد طاهر کلاچوي دپښتو معاصر ادبي بهیر خوږ ژبی شاعر وایي :

اوتی بوتی خو هر څوک لیکي طاهره

د یو ښه دغزل لیکل خو هنر غواړي

پوښتنه: کاظم خان شیدایي وایي:

مضمون د شعر لکه پیکر وي رنګین الفاظ یې رخت او زیور وي

ورته ضرور دي دا دواړه څیزه پیکر که هر څومره دلربا تر وي

د تاسو په آند آیا په شعر کې ښکلا شته او که نه؟ او دا راته ووایاست، چې دا ښکلا څنګه پیدا شوه او د دې ښکلا اغیز څه دی؟

ځواب: شعر دمینې او درد زیږنده ده. ښه شعر له مینې او ښایست نه پیدادی. مینه ښکلاده. خدای (ج) ښکلی دی او ښکلي خوښوي(الله جمیل ویحب الجمال)هر شعر ښکلا لري خو نسبي، ځینو کې ډیره او په ځینو کې کمه. په مجموع کې په شعر باندې دښکلا اغیز هم ډیر زیات دی. شعر که ښکلا ونه لري نو لوستونکي به هم ونه لري.

پوښتنه: زموږ د پښتولرغونی ادب دحماسو نه ډک تاریخ لري. تاسو په پښتو ادبیاتو کې او په ځانګړي توګه په شعر کې د دغو حماسو اغیز څه ډول ارزوی؟

ځواب: دپښتو شعر حماسه ده، رزم دی، میرانه او سربښندنه ده. دپښتو شعر له حماسی سره هست شوی. دپښتولومړنی لاسته راغلی شعردامیرکروړسوري ویاړنه ده، چې په ۱۳۹ هجری سنه کی دغور په مندیش کې امیر وو. او دجهان پهلوان یې باله، په تاریخ سوري کې محمدابن علی البستی داسې لیکي: چې دعباسی دولت په جنګونو کې، چې امیر کروړ ډیری سوبې وکړلی نو یې دا بیتونه وویل چې (ویاړنه) یې بولي هغه دادي چې شیخ کته علیه رحمه له تاریخ سوري نه رانقل کړي دي.

زه یم زمری پر دی نړی له ما اتل نه شته

په هندوسندو پر تخار او پر کابل نه شته

بل په زابل نه شته ،له ما اتل نه شته

غشی دمن مې ځي بریښنا پر میرځمنوباندی

په ژوبله وینم یرغالم پر تښتیدنو باندی

په ماتیدنو باندی،له ما اتل نه شته.....

دمعلوماتو له مخې دادپښتو ژبی لومړنی شعر دی، چې ټول له ویاړه، له رزم اوبزم نه ډک دی اوس نو په اسانی سره ویلی شو چې دپښتو ژبی دشعر په تاریخ کې دحماسو رول اوارزښت ډیر زیات دی .او دغو حماسواودغو ترانو هر وخت دغلیم په وړاندی زموږ دغازیانو او باتورانو سنګرونه تاوده ساتلي دي.

پوښتنه: تاسو دخپلو شاعری په دنیا کې کومو شعري فورمونو ته زیاتره پاملرنه کړې ده. تاسو ته کوم فورمونه په زړه پوری دي؟

ځوا ب: زما شاعري دشکل یا دفورم له پلوه زیاته غزلیزه شاعري ده. خو کله کله مې ازاد شعرونه هم لیکلي دي مطلب داچې کله کله مې دشعر په نوي فورم یا قالب کې هم طبع ازمايي کړیده.

پوښتنه: په ځینو آسیایي هیوادونو کې فلکلوریک اشعار لکه هایکواو داسې نور ویل کیږي. تاسودپښتو ادب دلنډیو په پرتله دغه ډول اشعار څه ډول څیرې؟

ځواب: لنډی دپښتو ژبی د اولسي ادبیاتو یوه مغتنمه برخه ده.لنډی دپښتو ژبې یوه داسې ځانګړنه ده، چې په نوروپرمختللوژبو کې هم دهغې ساری نه لیدل کیږي.دلنډی بله ځانګړنه داده چې دهغې ویوونکي او جوړونکي نه دي معلوم، همداسې سینه په سینه له یوه نسل نه بل ته نقل شوي او تر موږه یې ځان رارسولی دی.اوس نوموږ ته په کار ده چې دپښتو ژبې دغه تلپاتی برخه لا پسی غني او خوندي کړو.لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي لیکي:دپښتو تر ټولو نه قدیمه لنډی داده:

سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه

یار می دګلو لو کوي ګوتی ریبینه

وايي چې زرګونه کاله پخوا په بلخ کې اریایان اوسیدل، اوبلخ ته څیرمه دالبرز په غره کې به یې دسوما بوټي ریبل، اریایانو به دسوما دګلونو لو دشپی له خوا کولو او بیا به یې له دغو ګلانو نه شراب جوړول، ولي یې دشپی له خوا دسوما لو کولو ځکه چې دسوما بوټي یو ډول شیره لرله، نو که دورځی به وریبل شول نو دغه شیره به لاسونو پوری موښل کیدله.نودغه پورتنی لنډی ممکن دیوی پښتني محبوبی له خوا خپل مین ته ویل شوي وي.دلنډیو په هکله یو بل نظر دادی چې ممکن ډیری لنډی دښځو له

خواجوړی شوي وي.خو که هر څه وي زموږوظیفه به داوي چې موږ دغه لنډۍ راټولی کړو اوپه خپلو اثارو کې ورته ځای ورکړو.زموږدپښتو ژبې یو خوږ ژبې شاعر څومره په خواږه انداز کې دپښتو ژبې دغه لومړنی لنډۍ ځای کړی ده وګوری:

توره دننګ وهه راخیژه

غر او ګړنګ وهه راخیژه

لاچې لونګ وهه راخیژه

(سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه

یار می دګلو لو کوی ګوتی ریبینه)

یا لکه دابله بیلګه:

دتوری شرنګ و ته ویده شوی

نه دحجری نه دکاله شوی

تورزن په څه مین په څه شوی

(که په میوند کی شهید نه شوی

خدایږو لالیه بی ننګی ته دی ساتمه)

خوهایکو یو جاپاني شعري فورم دی او تقریبا څلورسوه کاله کیږي، چې رامنځته شوی دی، خو لنډۍ زرګونه کاله قدامت لري، بل فرق دهایکو له لنډۍ سره دادی، چې لنډۍ ۲۲څپې او هایکو ۱۷ څپې ده. لنډۍ ازاده او خپلواکه ده دلنډۍ لمن ارته او پراخه ده، خو هایکومحدوده او قید ده، په لنډۍ کې هر څه لکه مینه، سوله ،جنګ ،پښتو،غیرت،توره ،میرانه،شجاعت ،دود،دستور بیانیدلی شي. خو په هایکو کې نه شي کیدلی، دهایکو لمن لنډه او تنګه ده، هایکو دطبیعت رابطه له ژوند سره نښلوي، په (۲۰۰۴) میلادي کال کې یو امریکایي لیکوال هایکو داسې تعریف کړی ده (هایکو یو لنډ شعر دی چې په انځوریزه ژبه د یوې طبیعي یا موسمي تجربې خیال په شعوري بڼه لیږدوي. او له انساني حالاتو سره تړاو ورکوي.) دلته به دهایکو یوه بیلګه ولولو او وبه ګرو، چې دلنډۍ سره یې څومره فرق دی: دا هایکومشهورجاپاني شاعر کاجو ویلی ده.

Night and the moon

## My neighbour playing on his

## Flute-out-of tune

شپه ده سپوږمۍ ده

زما ګاونډي غړوي

شپیلۍ بې سوره

دا چې هایکو څنګه پښتو ژبې ته لار پیداکړې ده دابیل سوال دی،خونن سبا په ټول افغانستان کې ښه په درز لیکل کیږي دلته به یې بیلګه وړاندی کړو چې ښاغلي شاعر ومان نیازي لیکلی ده:

نن زه او باران

په وړی سپوږمۍ پسی

ډنډ ته وښویدو

پوښتنه: په پښتو ادب کې د متلونو په برخه کې څه نظر لرئ اوپښتو متلونه دنوروژبو دمتلونو په پرتله څه ډول ارزوئ؟

ځواب: متلونه دپښتو دشفاهي ادب ډیره شتمنه برخه ده. پر شعر دمتلونو اثر زیات دی یو شمیر لیکوالو وخت په وخت دغو تلپاتی متلونو ته په خپلوشعرونو کې ځای ورکړی دی، که دلته یې زه دهغې مثالونه وړاندی کړم نو خبره به ډیره اوږده شي متلونه دنړۍ په نورو ژبوکې هم شته خو په پښتو ادب باندی دمتلونو اغیز ډیر زیات دی. او زموږ شاعران باید دغه دود همداسې جاري وساتي. اومتلونو ته په خپلواثارو کې انعکاس ورکړي.

پوښتنه: تاسو په شعر کې موسیقیت او دتورو تکرار په موسیقیت کې څرنګه ارزوئ؟ او دا راته ووایاست، چې دتاسو شعرونه کومو سندرغاړو او هنرمندانو ویلي دي؟

ځواب: ما مخکې وویل چې زما شاعري، ډیره دغزل په فورم کې ده. اوغزل موسیقي ده. غزل دشعر له هر فورم نه زیات له موسیقۍ سره ډیر نژدې دی. اکثره سندرغاړي غزل ته ډیر په اسانه کمپوز جوړولای شي. زما له غزلو نه په هیواد کې ډیرو سندرغاړو سندرې جوړې کړي دي لکه ایوب استاد، منګل، شادکام ، شامحمد افغان، ایشان مومند او نور.

**پوښتنه:** تاسو دادبي نقد او کره کتنې په هکله څه نظر لرئ، او دا راته ووایاست، چې ولې په هیواد کې دننه او بهر دادبي نقدونو په هکله ادبي مرکزونه، چې هلته با صلاحیته ادبي او فرهنګي منتقدین او کره کتونکي موجود وي نه جوړیږي؟

**ځواب:** یوه ټکي کې ممکن ټول راسره متفق وي، چې که کره کتنه ونه لرو نو ښه علمي او ادبي اثار به هم ونه لرو، ځکه نقاد لیکوال خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کوي دیوه اثر ښه او بد سره بیلوی، نو کله چې یو اثر دنیمګړتیاوو نه پاک شي طبعي ده چې ارزښت یې زیاتیږي، داچې ولې موږ ښه کره کتونکي نه لرو دا بیله ستونزه ده موږ اثار لرو خو نقاد نه لرو، ددې عوامل ډیر کیدلی شي. زه فکرکوم تر ډیره حده زموږ لیکوال او نقاد سره په لرې واټن کې دي. بل دلیکوالو دنقد سره ناآشنایي هم کیدلی شي یو عامل وګڼو. زموږ دټولنې جوړښت داسې دی چې هلته نقاد هم نه شي کولی سپینې او ریښتنې خبرې وکړي ،موږ په لسګونو غونډې اومشاعرې جوړوو خو دمنظمې کره کتنې په برخه کې لا هیڅ هم نه لروو‌په کار ده چې په منظم ډول دکره کتنې مرکزونه جوړ او په منظم ډول علمي او ادبي اثار کره کتنې ته وړاندې شي.

**پوښتنه:** یو شمیر شاعرانو او لیکوالانو د خپلو څیړنیزو اونوښتګرو کارونو او فعالیتونو لپاره د بهرنیولیکوالانوآثاراو شعرونه ژباړلي دي. د تاسو په نظر د بهرنیو آثارو ژباړه او یا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب د ودې او پرمختګ ه څه اغیز لري؟ او دا راته ووایاست آیا تاسو هم بهرني آثارژباړلي دي او که نه؟

**ځواب:** دژباړې په اړه ډیر څه ویل په کار دي، سره له دې چې ځنې لیکوال به دژباړې سره جوړ نه وي، اویا که و وایو، چې دشعر ژباړل ممکن دومره ګټور نه وي لکه دیوناول اویا کوم بل منثور علمي او ادبي اثر، ژباړه هم ځانګړې اصول او معیارونه لري. کله کله چې دغه اصول او معیارونه په نظر کې ونه نیول شي نو هلته بیا دژباړې ارزښت کم وي، خو که هر اثردژباړې دمنل شوو اصولو پراساس وژباړل شي نو هم به یې ارزښت زیات وي اوهم به یې ثواب، زما په اند دژباړې په وخت کې ژباړونکی دغه څو ټکی باید په پام کی ونیسي.

دخپلې ژبې تحلیلي اوتفسیري صلاحیت ولري، داثرګټور توب په پام کې ونیسي، ښې ګڼې او بد ګڼې یې سره پر تله کړي ژباړونکی باید پر دې وپوهیږي، چې اثر تر ده دمخه چا پ شوی او که نه دی، کوشش باید وشي چې داسې اثار وژباړل شي، چې تر ده مخه نه وي چاپ شوی، زما په اند دژباړې په اړه خبرې په دغه ډول مرکو کې نه شي کیدلی ژباړه یو اکاډمیک کار دی او دهغې په اړه ډیر څه ویل کیدلی شي، بل ټکی دا،چې بی له

شکه ژباړه د ژبې په بډايينه کې لوی رول لري، که موږ چيرته دنړۍ دمشهورو نوابغو لکه شکسپير، بالزاک، همينګوی، تولستوی، چخوف او نورو په لسګونواو سلګونو ليکوالو او مفکرينو اثارو ژباړی په پښتو ژبه لرلی نو بی له شکه زموږ ژبه به له اوس نه ډيره پرمختللی وای، اوس هم لا دوخته ده دپښتو ژبې هغه ليکوال چې په نورو نړيوالو ژبو ښه پوهيږي با يد دغه لوی اوتلپاتې کار ته متی راونغاړي اود نړۍ لوی شهکارونه په پښتو ژبه وژباړي. په نورو ژبو دپښتو اشعارو او اثارو ژباړل هم همدومره ګټه لري لکه څومره چې يې له نورو نه ، اروابناد استاد ګل پاچا الفت وايي:

پردی ژبه زده کول که لوی کمال دی

خپله ژبه هيرول بې کمالي ده

ما په خپله په دې بر خه کی تر اوسه څه نه دي کړي.

پوښتنه: يوشميرادبي او فرهنګي شخصيتونه په دې عقيده دي، چې د پښتو ژبې په سوچه کولو، کره کولو، علمي کولواومعياري کولو کې بايد ډيره زياته پاملرنه وشي. مهرباني وکړی تاسو په دې هکله خپل نظر څرګند کړی؟

ځواب: ديوې ژبې معياري کول سوچه کول يا علمي کول زه فکر کوم دهرې ژبې له پاره ضروري دی، هر هغه څوک چې دپښتو ژبې دمعياري کولو له پاره کار کوي هغه بايد وستايل شي په نورو ژبو کې وخت پر وخت نوي لغاتونه جوړيږي او بيا ډير ژرعامه بنه خپله کړي، زما په اند دپوهاند صاحب زيار هلې ځلې دپښتو ژبې په برخه کې دډيری ستاينی وړ دي دژبې سوچه کول معياري کول دادپښتو ژبې دژبپوهانو کار دی، اوهغه که هر چا کړی دی بايد چې درناوی يې وشي.

پوښتنه: تر هغه ځايه، چې زه خبريم تاسو د ډيرو ليکوالانواو شاعرانوپر آثارو سريزې ليکلی دي او د دوی آثارمو څيرلي دي.تاسوپه دغو څيرنو کې کومومهموټکيو ته زياتره پاملرنه کړی ده؟

ځواب: داسمه ده چې ما دخپلو همزولو اومشرانو ليکوالو اوشاعرانوپه اثارو سريزې کښلی دي،خو که رښتيا راباندی وايې تری راضي نه يم ، له يوی نيمی سريزې پرته په ډيرو کې رانه کليشه يي او تکراري خبرې شوی دي، دسريزو ليکلو دغه ناوړه دود اوس هم دوام لري، پلانی ښه شاعريا ښه ليکوال دی، ترکيبونه او انځورنه يی نوي دي، که ژوند ياري ورسره وکړه نو ښه اثار به وليکي، برى ورته غواړم دشعرونو نمونې اوبس شابسی، زه فکر کوم کومې سريزې چې ما او يا په هغه وخت چې زه په

کابل کې وم او لیکل کیدی به، هغه اکثرا په دغه متود وي، چې مایې یادونه وکړه، له بده مرغه دسریزو لیکلو دغه دود اوس هم روان دی.

**پوښتنه:** سر بیره په دې، چې زموږ په هیواد کې یو شمیر درنو اوپاخه لیکوالانواو شاعرانو پر ځینو تقلیدي شاعرانوخپلې ځیرنې کړی دي خو بیا هم زموږ په ټولنه کې یو شمیر شاعران وینو ، چې د تقلید په پله روان دي. تاسو د یو شاعر او ادبي شخصیت په توګه دا نیمګړتیاوی څرنګه ځیرې او د دغو نیمګړتیاووپه هکله څوانو شاعرانو ته کوم وړاندیزونه او لارښووني لری؟

**ځواب:** یو تقلید دی اویو توارد دی، که کوم شاعر یا لیکوال دچا دشعرمضمون نقل کړي، اوموضوع کټ مټ راواخلي نو دا تقلید نه بلکې ادبي غلاده. او اصلا مجاز نه لري. خودترکیبونو انځورونو تکرار که په نوي او ښکلي بڼه وي نودشاعر ابتکاریې بللی شو. شاعر همیشه باید دابتکار په لټه کې وي، او دابتذال په وړاندی خپل کوشش جاري وساتي.

**پوښتنه:** زماپه نظر دهرهنر هنرمند د یوې ټولني د خلکو په راویښولواو دملي احساساتو په راپارولو کې ډیر عالي رول لري اوبایددخپل هنر په وسیله دخپلې ټولنې اوخلکوپه خدمت کې وي، خوزموږ په هیوادکي یوشمیرشاعران، لیکوالان، هنرمندان، سندرغاړي او داسې نوربرخلاف دخپلو اصلي دندو عمل کړی دی اوکوي یې، دبیلګې په توګه یوشمیر شاعران اوهنرمندان (مدح سرایي) کوي، شعر اوهنر یې په شعارونو تبدیل شوی دی او دخپل حریف پرضدیې حساسیت ښوودلی دی او یا یې ښیي. مهرباني وکړی په دې هکله خپل نظر راته بیان کړی؟

**ځواب:** ستر انګریز دانشور او نقاد چې جورج سنتایانه (۱۸۶۳-۱۹۵۲) نومیږي، په خپل کتاب شعراو مذهب کې لیکي: ( چې ستره شاعري د بیت بازانو او توک بندانو نه، بلکې د پیغمبرانو په خمیر کې اخښلي شوې وي. ستره شاعري دهغو شاعرانو برخه ده چې وینا یې یوازی دپیغمبرانو سیرت او عمل ته ورته وي.)

اوس نو که هرڅوک دغه لو ی اوستر مسولیت په مداحی او چاپلوسی پلوري نو هغه دخوشال بابا وینا ورته په کار ده،بابا وایي:

د هغه شاعر دانی وشه په ژبه

چې دشعر دردانی پلوري په مال

شعر شعار نه دی شعر مدحه نه ده،دشعررسالت او دشاعر وظیفه انسان جوړونه ده.

**پوښتنه:** په هیواد کې دننه اوبهرپه یو شمیر رادیویي او تلویزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه اوبرنامې خپرېږي، د دغو خپرونوپه هکله دتاسونظرد یو باتجربه کاره ادبي اوفرهنګي شخصیت په توګه، چې درادیو اوتلویزون سره موهمکاري لرله څه دی؟

**ځواب:** په پښتو ژبه کې یو متل دی چې وایی: هر شی، چې ډیر شي ګندیر شي. چا راته هغه بله ورځ ویل، چې په هیواد کې اوس اوس دځلویښتو په شا وخوا کې تلویزوني چینلونه خپروني کوي شکر مې وایست، زه چې دلته په لندن کې اوسیږم هم اوه اته چینلونه ګورم، ډیر وخت داسې راځي چې یو هم په دې نه ارزي، چې څوک یې وګوري، مبتذل او تکراري پرګرامونه خو دومره په کې ډیر دي چې په لیدلو نه ارزي، دنوو پرګرامونو دنشتوالي له کبله ځنې خپرونې ډیری اوږدې دي، چې دلیدونکو دحوصلی نه ووزي. بل کوم ټکی، چې ددغو برنامو په اړه دتامل وړ دی دژبو نه انډول دی د ملي ، اومسلکي کسانو نه شتون، ملي ترمنالوژی ته نه پاملرنه، ملي مسایلو ته نه درناوی او داسې نور ډیر مسایل دي چې دلته به یې یادوول ضرور هم نه وي، ددغو تلویزیوني خپرونو نیمګړتیا بللی شو.

**پوښتنه:** په هیواد کې دننه او بهر یو شمیر ادبي اوفرهنګي ټولنې جوړې شوې دي او همدارنګه ادبي ناستی او ادبي غونډې ترسره کیږي اود یوشمیر ادیبانو، لیکوالانو اوشاعرانو کارونه او فعالیتونه څیړل کیږي. دتاسو په نظر دا کارونه او فعالیتونه د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه اغیز لري؟ او د دغو ټولنو د یووالي اودکارونه او فعالیتونود سمون اوخوځون په هکله څه وړاندیزونه لری؟ آیا په دې هکله کومه هڅه هم شوی ده او که نه؟

**ځواب:** زه فکر کوم دی پوښتنې ته به په همدی مرکه کې ځواب ویل شوی وي خو یو ځل بیا به دومره ووایم چې ددغو ټولنو فعالیتونه دستاینې وړدي او هری یوی ترخپلی وسی یو څه کړي دي. خو کوم ټکی چې زما په نظر ډیر بنیادي دی هغه ددغو ټولنو یووالی دی. دوی ته په کار ده چې په ډیرو ملي او هیوادني مسایلوکې یو نظر ولري. زه فکر کوم په هیواد کې دننه یو وخت ددغو فرهنګي او کلتوري ټولنو دیوالي هڅې پیل شوی وی . دلته په ارو پا کې هم دغه کار یو څه شوی دی خو لا ډیر کار ته اړتیاده. او په هر قیمت که کیږي ددغوټولنو دیووالي کار بایدچټک شي.

**پوښتنه:** دلر او برو پښتنولیکوالانو، ادیبانواوشاعرانود ګډو هلوځلو او فرهنګي فعالیتونو په هکله مو نظرڅه دی؟

ځواب: دلر او بر پښتنو دادبي هلو ځلو په اړه زه ډېر خوشبين يم زما په فکر په پښتنو کې له بل هر وخت نه اوس ډېر توان ليدل کيږي دلته زما هدف يوازی په فرهنګي ساحه کې دی نه په سياسي. په فرهنګي برخه کې دپښتنو هلې ځلې داکه لردي او که بر داکه دهيواد دننه دي که دهيواد دباندی دستايني وړ دی خو کوم ټکی چې ددغو هلو ځلو په هکله دپاملرنی وړ دی هغه ددغو هلو ځلوهمغږي ده. کله کله دغه همغږي تته وي په کار خو ده چې ددغو هلو ځلو رڼا دومره زياته شي چې دلر اوبر پښتنوديری او وستلونه پری روښانه شي. دغه فرهنګي هلې ځلې که هر څومره ډېری وي او په هر ځای کې چې وي بې له شکه چې ګټه به يې ډېره وي خو که ددوی تر منځ يوه اړيکه موجوده وي: حمزه بابا وايي:

بيل دی وی خير چې ديو لاس ګوتی وی

دا په نړی کی يو پنځه پښتانه

زما په نظر دپښتنو دغه فرهنګي هلې ځلې بايد همداسې ديو لاس ګوتی وي.

پوښتنه: مهرباني وکړی دخپل ادبي اوفرهنګي ژوند خوږې او ترخې خاطرې را ته بيان کړی؟

ځواب: ژوند ټول دترخو خاطرو مجموعه ده. چې تيريږي او نه هيريږي.وايي ، چې هيرول ښادي ده،اوچې هير يې نه کړی نو ښادي نه شته، ترخی خو دومره ډېری دي چې ويلی يې نه شم. ښه به داوی چې هيری يې کړم، خو يوه ښه خاطره به درته ووايم، اغلی ميرمن ګراسيموا د روسی ژبې يوه وتلی ليکواله اوپښتو پوهه ده، په۱۹۹۳ميلادی کال کې دلومړی ځل له پاره په مسکو کې دهغی کور ته ورغلم، مخکی له دی چې ځان وروپيژنم، نو هغی دخپلو کتابونو نه زما دشعرونو لومړنی مجموعه راواخستله، اوزياته يې کړه چې زه تاسی اونور پښتانه ليکوال اوشاعران ټول پيژنم، بيايی ما ته په روسی ژبه يو پنډ کتاب راکړ چې په هغی کې زما څو شعرونه په روسی ژبه ژباړل شوي او چاپ شوي وو. زه فکر کوم دازما لپاره يوه خاطره وه.

پوښتنه: د تاسوپيغام د يو ليکوال اوشاعرپه توګه په هيواد کې دننه او بهرځوانو ليکوالانو اوشاعرانوته څه دی؟

ځواب: سره له دی چې داپوښتنه هم ډيره تکراري اوکليشه ای ده خوکه دځواب کوشش يي وکړم وبه وايم چې زما غوندی ديوه اواره او جلا وطنی مسافر پيغام به څه وي زما پيغام ځوانو ليکوالو او شاغرانو ته دادی چې له هرڅه نه وړاندی دکره کتنی سره ځان عادت کړي خپل اثارکره کتنی ته وړاندی کړي دنورو سالمو نظرونو ته په درنه سترګه

وګوري څکه وايي چی: انتقاد دملګرو تر منځ دګلونودويشتلو په مانا دی، او زموږ پر اثارو نقد اوکره کتنه بايد په همدغه اصل ولاړه وي، موږ يوازی کولای شو دښنی او سالمی کره کتنې نه وروسته يو ډير ګټور اثار ټولنې ته وړاندی کړو. زما دغه هيله دهيواد نه بهر او په هيواد کې دننه ټولو ته متوجه ده. دروسی ژبی دلوی ليکوال پوشکين خبره ده چې وايي: (موږ ادبيات لرو خو نقد نه لرو. ) او موږ پښتانه هم همداسې يو چې ادبيات لروخو نقد نه لرو.

پوښتنه: تاسو ديوشاعراو ليکوال په توګه زموږ دهيواد اوسنی سياسي، تاريخي اوکړکيچن حالات څرنګه څيړې اونوروشاعرانو او ليکوالانوته په دې هکله څه وړانديزونه لری؟

ځواب: ما مخکی ويلي دي چې زه ليکوال او شاعرته ددستور ورکولو سره مخالف يم، ليکوال اوشاعربغاوت کوونکی دی هغه دټولنې دعادي انسان نه لوړ فکر کوي. نو څکه دهغه خيالونه او فکرونه هم اوچت دي، رابه شو دهيواد روانی غميزی ته، دغې تپل شوی غميزې بی له شکه چې زموږ په ليکوال او شاعر اغيز ښندلی دی، په لسګونو ليکوال او شاعران ددغې جګړی لمبو سوزولی او لا سوزيږی. اوس موږ د پښتو ژبې ډديروليکوالو اوشاعرانو په اثارو کې ددغوحالاتو انعکاس وينو، زما په فکر ليکوال او شاعرد دغو کړکيچينو حلاتو يو ښه انځور ګر کيدلی شي او دی. زموږ ليکوال او شاعران بايد په طبيعي ډول په خپلو پنځونو کې ددغو حالاتو بيان ته ځای ورکړي.

ډکور صاحب له تاسو نه ډيره مننه کوم، چې له ما سره مو مرکه وکړه او زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل. د تاسود برياليتوبونواو برياوو په هيله.

په آخرکې زه هم له تاسو نه دزړه له کومې مننه کوم، چې تاسو داسې يو لوی او تل پاتې ادبي کار ته متی رانغاړلي دي، چې که اوس د ډيروپه ګروهه نيمګړي وي خو بې له شکه به زموږ د راتلونکي نسل لپاره يو ښه او ګټه ور ماخذ وي. تاسو ته په دغه ستراو لوی کار کې برى غواړم.

په ډيردرنښت او ادبي مينه : انجنيرعبدالقادر مسعود